مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰۶/۰۱

# څــــه غـواړي؟

عـقلـه !ته پوهیږې، چې جانان له جانان څه غواړی؟
دا زمونږد سرپاســـه، ایبنــی اسـمان څـه غـواړی؟

مـیـنـه خـو پـرون ده لا وتلي، له دی زړونـو نـــه
نورنو له دی زړونـو، نوی نوی ارمان څه غواړی؟

کورخو د خاورین انسان، د اور شـیطان نیولی دی
داحاکم شیطان، له دی محکـومه انسان څه غواړی؟

ســـوي تول ګلان دی، تول باغـونه ایره شـویدی
ســوو ګلکځـو، تورو ایرو نه باران څه غــواړی؟

دار ته پـورته کـړي، لیـونـو خـو هـوښـیارا پخـوا
دی لیـونی کلی نه، لا نـــور لیونیـان څه غـواړی؟

اوس چی عقل هم، د جهالت زورته تسلیم ښکاری
دی خـالی سـرو نه، دا دقهر دیـوان څه غـواړی؟

زه بل انقلاب ته، حوصـلـه په چـا کـی نه ګـورم
د دافراطیـت د مـدرسـو، شــاګردان څه غواړی؟

څوکرت چور شـوی، کلیواله دی صحرا کی دی
بیاچی راروان دی،دابی سترګوکاروان څه غواړی؟

می/۲۶/۲۰۱۹
ایجکس ـ تورنتو ـ کانادا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ